د افغانستان اسلامي امارت

خرد و خود باوری

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې**

**او**

**د ابن سینا پوهنتون**

**ترمنځ**

**د همکارۍ هوکړه لیک**

**تفاهمنامه همکاری**

**میان**

**اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی**

**و**

**پوهنتون ابن سینا**

سال ۱۴۴۶ ه.ق مطابق ۱۴۰۳ ه.ش

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون. (زمر: (۹)

ووایه: هغه کسان چې پوهیږي او هغه چې نه پوهیږي سره یو شان دي؟

په نننی عصر کې، چیرې چې پوهه او اګاهي د بشري ټولنې د پرمختګ او ودې اساسي ستنې ګڼل کیږي، د علم ودې ته ژمنتیا د تخنیکي، مسلکي او تحصیلي بنسټونو له مهمو لومړیتوبونو څخه ده. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره او د ابن‌سینا غیرانتفاعي پوهنتون، د هېواد د علمي او عملي استعدادونو د ودې او پراختیا لپاره، د ګډ هدف په پام کې نیولو سره، د دوه‌اړخیزو همکاریو له لارې د دغو لوړ اهدافو د تحقق هڅه کوي.

### د هوکړه لیک د اړخونو معرفي

### ۱- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوه رهبري کوونکي، تنظیموونکي او همغږي کوونکي بنسټ په توګه له ۱۳۹۷ کال راهیسې د یوه مستقل دولتي واحد په توګه فعالیت کوي او اوس هم د یوه بودجوي مستقل واحد په توګه د اسلامي امارت په جوړښت کې خپل رول ترسره کوي، د دې ادارې هدف د ماهر کاري ځواک روزل دي، چې د داخلي او بهرني مارکېټ په پام کې نیولو سره مخکې ځي. دغه اداره خپل تخنیکي او مسلکي ښوونیز فعالیتونه په درې برخو کې ترسره کوي: رسمي، نیمه رسمي او غیر رسمي، چې په (۷۴) برخو کې یې وړاندې کوي. او همدارنګه دغه اداره د خپلو داخلي ظرفیتونو په کارولو سره د خپل ستراتیژیک پلان پلي کولو او عملي کولو په حال کې ده، چې د هېواد په کچه د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د لاسرسي پراخولو، د زده‌کړو د کیفیت لوړولو، د مادام العمر زده‌کړو ترویج او د اغېزمن مدیریت پلي کولو په موخه طرحه شوی دی.

آدرس کارته ۴، دریمه ناحیه کابل- افغانستان

ټیلیفون: ۰۲۰۲۵۱۰۶۶۶

ایمېل: dpsc@tveta.gov.af

وبسایټ www.tveta.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون. (زمر: (۹)

بگو: آیا کسانی که میدانند با کسانی که نمیدانند یکسانند؟

در این عصر که دانش و آگاهی به مثابه پایه‌های اساسی توسعه و ترقی جامعه بشری به شمار می‌روند، تعهد به پیشبرد دانش از اولویت‌های اصلی نهادهای آموزشی تخنیکی، مسلکی و تحصیلی می‌باشد. اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا با توجه به هدف مشترک در رشد و توسعه استعدادهای عملی و علمی کشور، از طریق همکاری‌های دوجانبه، به دنبال تحقق این اهداف بلندپروازانه هستند.

### معرفی طرفین تفاهم نامه

### ۱- اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی، به عنوان ادارهٔ در زمینه رهبری، تنظیم، و هماهنگی سکتور تعلیمات تخنیکی و مسلکی، از سال ۱۳۹۷ تاکنون به عنوان یک واحد بودجوی مستقل در چارچوب ساختار امارت اسلامی فعالیت می‌کند. این اداره با هدف اصلی تربیت نیروی کار ماهر برای بازار کار داخلی و بین‌المللی، نقش کلیدی در توسعه اقتصادی و اجتماعی کشور ایفا می‌نماید. فعالیت‌های آموزشی این نهاد در سه بخش تعلیمات تخنیکی و مسلکی، رسمی، نیمه‌رسمی، و غیررسمی تدوین شده و در بیش از ۷۴ رشته تحصیلی پیش می‌رود. همچنین، اداره در حال تطبیق و به کارگیری پلان استراتژیک خویش است که با هدف ارتقاء دسترسی به تعلیمات تخنیکی و مسلکی در سراسر کشور، بهبود کیفیت آموزش‌ها، ترویج آموزش‌های مادام‌العمر و تحقق مدیریت موثر، طراحی شده است.

آدرس: کارته۴، ناحیه سوم، کابل-افغانستان

تلفن: ۰۲۰۲۵۱۰۶۶۶

آدرس ایمیل: plan@tveta.gov.af

وبسایت: www.tveta.gov.af

**۲- د ابن‌سینا غیر انتفاعي پوهنتون**

ابن سینا پوهنتون د افغانستان لومړی غیرانتفاعي پوهنتون دی چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د رسمي جواز لمخې په ۱۳۸۹ کال کې تاسیس شو. دغه پوهنتون تر دې دمه د ۶ پوهنځیو او په ۱۶ څانګو کې محصلان مني. په ابن سینا پوهنتون کې د سیاسي علومو ، حقوق، ټولنیز علوم، اقتصاد او مدیریت، انجنیري او کمپیوټر ساینس پوهنځی شتون لري او د دې ترڅنګ د ماسټرۍ په کچه د نړیوالو اړیکو، د جزا حقوق، جنایي علوم او عامه حقوق برخو کې هم فعالیت لري.

د ابن سینا پوهنتون یوه معتبره علمي ټولګه ګرځېدلې چې د کافي کتابخونې، عصري کمپیوټرلب، مجهز لابراتوار، چې له مسلکي او دایمي استادانو سره یوځای د مدیریت مسلکي کار ته دوام ورکوي. دغه پوهنتون د خپل تاسیس له پیل څخه د ارزان او باکیفیته لوړو زده کړو لاره تعقیب کړې او اوس د مثبت مالي بیلانس پر اساس د محصلانو د ملاتړ پروګرام او د زده کړو فیس کمولو په اړه کار کوي.

**۲- پوهنتون غیر انتفاعی ابن‌سینا**

پوهنتون ابن‌سینا اولین پوهنتون غیرانتفاعی در افغانستان است که با مجوز رسمی وزارت تحصیلات عالی افغانستان در سال ۱۳۸۹ تأسیس شد و تاکنون پذیرای محصلان در ۶ پوهنحی و ۱۶ رشته تحصیلی بوده است. پوهنتون ابن‌سینا دارای پوهنحی‌های علوم سیاسی، حقوق، علوم اجتماعی، اقتصاد و مدیریت، انجنیری و کمپیوترساینس می‌باشد و همچنین در رشته‌های روابط بین‌الملل، حقوق جزا و علوم جنایی و حقوق عامه و خصوصی در مقطع ماستری نیز فعالیت دارد. کتابخانه، غنی از آزمایشگاه‌های مدرن، کامپیوترلب‌های مجهز در کنار کادر علمی و دائمی و مدیریت حرفه‌ای ابن‌سینا را به یک مجموعه علمی معتبر، با نشاط، با ثبات و دارای آینده مبدل کرده است. پوهنتون ابن‌سینا به عنوان یک نهاد تحصیلات عالی غیرانتفاعی از بدو تأسیس سیاست تحصیلات عالی ارزان و با کیفیت را تعقیب کرده و اکنون به دلیل مثبت بودن بیلانس مالی برنامه حمایت از دانشجو و کاهش مزد تحصیلی را به اجرا می‌گذارد.

## لومړی څپرکی

## لومړني احکام

**مبنی**

**لومړی ماده:**

د ابن‌سینا پوهنتون (کابل، مزار شریف) د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو اداري د نوي ستراتیژیک پلان د تطبیق بهیر د لاسرسي پراخولو، د زده‌کړو د کیفیت لوړولو، د لنډمهالو او مهارت‌محور روزنیزو پروګرامونو د پراختیا او اغېزمن مدیریت له لارې ملاتړ کوي.

**موخې**

**دویمه ماده:**

۱- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د مرکزونو شرایطو لرونکو فارغانو او د دې اداري پرسونل لپاره د ابن‌سینا غیر انتفاعي پوهنتون کې د زده‌کړو د فیس کمولو سره د تعلیمي پروسې د دوام زمینه‌سازي؛

۲- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اداري استادانو او کارکوونکو د پوهاوي لوړولو لپاره د ظرفیت لوړولو پروګرامونو تنظیمول؛

۳- د ګډو علمي او تطبیقي څېړنو او پروژو ترسره کول؛

۴- د کمپیوټر او انګلیسي ژبې د زده‌کړو پروګرامونو لپاره زمینه‌سازي؛

۵- د تعلیمي نصاب بیاکتنه

۶- د نوې ټکنالوژۍ د کارونې ورکشاپ په زده‌کړو کې؛

۷- په زده‌کړو کې د نوې ټکنالوژۍ کارونه؛

۸- د مؤثر ارزونې سیستم د تطبیق په برخه کې همکاري.

## فصل اول

## احکام ابتدایی

**مبنی**

**ماده اول:**

حمایت از پروسه تطبیق پلان استراتیژیک جدید اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی توسط پوهنتون ابن‌سینا (کابل، مزار شریف) از طریق افزایش دسترسی، افزایش کیفیت در آموزش‌ها، انکشاف و گسترش آموزش‌های کوتاه مدت و مهارت‌محور، مدیریت موثر صورت می‌گیرد.

**اهداف**

**ماده دوم:**

۱- زمینه‌سازی ادامه تحصیل فارغان واجد شرایط انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی و پرسونل این اداره با تخفیف فیس تحصیلی در پوهنتون غیر انتفاعی ابن‌سینا.

۲- تدویر برنامه‌های ارتقاء ظرفیت جهت بالا بردن سطح آگاهی پرسونل اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی.

۳- انجام تحقیقات و پروژه‌های مشترک علمی و کاربردی؛

٤- زمینه‌سازی برای برنامه‌های آموزشی کمپیوتر و زبان انگلیسی؛

٥- بازنگری نصاب تعلیمی؛

٦- ورکشاپ به کارگیری تکنالوژی‌های نوین در آموزش؛

٧- به کارگیری تکنالوژی‌های نوین در آموزش؛

٨- همکاری در پیاده‌سازی نظام ارزیابی مؤثر.

## دویم څپرکی

## دوه اړخیز تعهدات

### د ابن سینا غیرانتفاعي پوهنتون تعهدونه

**دریمه ماده:**

د ابن‌سینا غیرانتفاعي پوهنتون د دې هوکړه لیک د عملي کولو لپاره لاندې مواردو ته ژمن دی:

۱- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې د لیسې فارغانو ته د لیسانس په کچه د اړوندو څانګو لپاره د څلور کلن (۸ سمستر) دورې لپاره تر پنځوس سلنه زیات تخفیف ورکول، چې د دې ادارې د ۱۴صنف دوه کلن فارغانو ته څخه ٪۶۰ تر ٪۶۷ تخفیف ورکول کیدی شي؛

۲- که چېرې معرفي شوي افراد د شلو کسانو نه زیات شي، نو یو نفر به د لیسانس په مقطع کې وړیا داخل شي، د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې د وړاندیز پر اساس؛

۳- هر سمستر د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د استادانو او کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو لپاره یو علمي – عملي سمینار یا ورکشاپ د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې په همکارۍ (د ابن سینا غیر انتفاعي پوهنتون یا د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې کې د ګډون کوونکو لپاره د تقدیرنامې سره) د اړتیا او د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې د پلان مطابق د ابن‌سینا غیر انتفاعي پوهنتون د اړوند څانګو له مخې ترسره کیږي؛

۴- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې پرسونل ته د ماسترۍ په مقطع کې د فیس تر ٪۵۵ تخفیف ورکول کیدی شي؛

۵- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې محصلینو لپاره د ابن‌سینا پوهنتون کې د زده‌کړو ترسره کول، که چیرې امکانات او شرایط موجود وي؛

۶- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو په برخو کې د ګډو او تطبیقي تحقیقاتو ترسره کول او د بازار کار اړتیاو ته د تطبیق لپاره همکاري؛

۷- د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې پرسونل لپاره د کمپیوټر او انګلیسي ژبې د زده‌کړو پروګرامونه تنظیمول؛

۸- که چیرې په ابن‌سینا غیرانتفاعي پوهنتون کې د رهبرۍ په کادر کې بدلون راشي، ابن‌سینا غیرانتفاعي پوهنتون د دې هوکړه لیک اصولو ته پابند پاتې کیږي؛

۹- د تعلیمي نصاب بیاکتنه

## فصل دوم

## تعهدات طرفین

### تعهدات پوهنتون غیر انتفاعی ابن‌سینا

**ماده سوم:**

پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا به منظور عملی ساختن این تفاهم نامه به موارد ذیل متعهد می‌گردد:

۱- جذب فارغان معرفی شدهٔ دوره لیسه اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی با بیش از پنجاه فیصد تخفیف فیس تحصیلی مقطع لیسانس در رشته‌های مربوطه برای دوره چهار ساله (۸ سمستر)، که البته فارغان دوره دو ساله این اداره از صنف ۱۴ با تخفیف ٪۶۰ الی ٪۶۷ قابل اجرا است؛

۲- در صورتی که افراد معرفی شده از بیست نفر بیشتر گردد، یک نفر در مقطع لیسانس به صورت رایگان به پیشنهاد اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی پذیرفته میشود؛

۳- سمینار علمی – عملی یا ورکشاپ در هر سمستر جهت بالا بردن سطح آگاهی استادان و کارمندان اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی (در پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا یا در اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی با تفویض تقدیرنامه برای شرکت‌کنندگان)، در صورت ضرورت و برنامه‌ریزی اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی مطابق رشته‌های پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا دایر می‌گردد؛

۴- پذیرش پرسونل اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در مقطع ماستری تا سقف (٪۵۵) فیصد تخفیف از فیس پایه قابل اجرا می باشد؛

۵- برگزاری آموزش‌های مربوط به محصلین اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی در پوهنتون ابن‌سینا در صورت وجود امکانات و فراهم بودن شرایط؛

۶- همکاری در زمینه تحقیقات مشترک کاربردی در عرصه رشته های تعلیمات تخنیکی و مسلکی و مطابقت آن با نیاز بازارکار؛

۷- تدویر برنامه های آموزشی کمپیوتر و زبان انگلیسی برای پرسونل اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی؛

۸- در صورت تغییر و تبدیلی در هیأت رهبری پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا به تعهدات این تفاهمنامه پایبند می باشد؛

۹- بازنگری نصاب تعلیمی؛

۱۰- د نوي ټکنالوژۍ د کاروني ورکشاپ په زده‌کړو کې؛

۱۱- په زده‌کړو کې د نوي ټکنالوژۍ کارونه؛

۱۲- د مؤثر ارزوني سیستم د تطبیق په برخه کې همکاري.

۱۳- د افغانستان اسلامي امارت د تګلارې پلي کول؛

۱۴- د تحصیلي څانګو لپاره د فیس تخفیف جدول.

د تخفیف جدول (۱) د دولسم پاسانو د تخفیف جدول

| شمېره | د لیسانس برخې څانګو تخفیف | په هر سیمستر کې کرېډېټ | اصلي فیس | د تخفیف سلنه | د اجرا وړ فیس |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سوداګریز اقتصاد، د بانکي او مالي چارو مدیریت، نړیوالې اړیکې، ژورنالیزم، د جزا حقوق، جنایي علوم، عامه او خصوصي حقوق | ۱۷ کریدت | ۱۵۰۰۰ افغانی | ۴۶٪ | ۸۰۰۰ افغانی |
| ۲ | معلوماتي ټکنالوژي او د نرم افزار انجینري | ۱۷ کریدت | ۲۱۰۰۰ افغانی | ۵۲٪ | ۱۰۰۰۰ افغانی |
| ۳ | سیول انجینري، مهندسي، چاپیریال ساتنه او د معدن جیولوژی | ۱۷ کریدت | ۲۳۰۰۰ افغانی | ۶۱٪ | ۹۰۰۰ افغانی |

(۲) د څوارلسم پاسانو لپاره د تخفیف جدول

| شمېره | د لیسامس برخې څانګو تخفیف | په هر سیمستر کې کرېډېټ | اصلي فیس | د تخفیف سلنه | د اجرا وړ فیس |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سوداګریز اقتصاد، د بانکي او مالي چارو مدیریت، نړیوالې اړیکې، ژورنالیزم، د جزا حقوق، جنایي علوم، عامه او خصوصي حقوق | ۱۷ کرېډېټ | ۱۵۰۰۰ افغانی | ۵۶٪ | ۶۵۰۰ افغانی |
| ۲ | معلوماتي ټکنالوژي او د نرم افزار انجینري | ۱۷ کرېډېټ | ۲۱۰۰۰ افغانی | ۶۰٪ | ۸۵۰۰ افغانی |
| ۳ | سیول انجینري، مهندسي، چاپیریال ساتنه او د معدن جیولوژی | ۱۷ کرېډېټ | ۲۳۰۰۰ افغانی | ۶۷٪ | ۷۵۰۰ افغانی |

(۳) د ماسترۍ لپاره د تخفیف جدول

| شمېره | د لیسامس برخې څانګو تخفیف | اصلي فیس | د تخفیف سلنه | د اجرا وړ فیس |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | نړیوالې اړیکې | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |
| ۲ | جنایي علوم او د جزا حقوق | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |
| ۳ | خصوصي حقوق | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |

۱۰- ورکشاپ به کارگیری تکنالوژی‌های نوین در آموزش؛

۱۱- به کارگیری تکنالوژی‌های نوین در آموزش؛

۱۲- همکاری در پیاده‌سازی نظام ارزیابی مؤثر.

۱۳- تطبیق پالیسی امارت اسلامی افغانستان؛

۱۴- جدول تخفیف در رشته های مقطع تحصیلی:

(۱)جدول تخفیف برای دوازده پاس‌ها

| شماره | رشته های مقطع لیسانس | کریدت در هر سمستر | فیس اصلی | فیصدی تخفیف | فیس قابل پرداخت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اقتصاد تجارتی، مدیریت امور مالی و بانکی، روابط بین الملل، ژورنالیزم، حقوق جزاء و علوم جنایی و حقوق خصوصی و عامه | ۱۷ کریدت | ۱۵۰۰۰ افغانی | ۴۶٪ | ۸۰۰۰ افغانی |
| ۲ | تکنالوژی معلوماتی و انجنیری نرم افزار | ۱۷ کریدت | ۲۱۰۰۰ افغانی | ۵۲٪ | ۱۰۰۰۰ افغانی |
| ۳ | انجنیری سیول، مهندسی، محیط زیست و جیولوژی معدن | ۱۷ کریدت | ۲۳۰۰۰ افغانی | ۶۱٪ | ۹۰۰۰ افغانی |

(۲)جدول تخفیف برای چهارده پاس‌ها

| شماره | رشته های مقطع لیسانس | کریدت در هر سمستر | فیس اصلی | فیصدی تخفیف | فیس قابل پرداخت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اقتصاد تجارتی، مدیریت امور مالی و بانکی، روابط بین الملل، ژورنالیزم، حقوق جزاء و علوم جنایی و حقوق خصوصی و عامه | ۱۷ کریدت | ۱۵۰۰۰ افغانی | ۵۶٪ | ۶۵۰۰ افغانی |
| ۲ | تکنالوژی معلوماتی و انجنیری نرم افزار | ۱۷ کریدت | ۲۱۰۰۰ افغانی | ۶۰٪ | ۸۵۰۰ افغانی |
| ۳ | انجنیری سیول، مهندسی، محیط زیست و جیولوژی معدن | ۱۷ کریدت | ۲۳۰۰۰ افغانی | ۶۷٪ | ۷۵۰۰ افغانی |

(۳)جدول تخفیف برای ماستری

| شماره | رشته های مقطع ماستری | فیس اصلی | فیصدی تخفیف | فیس قابل پرداخت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | روابط بین الملل | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |
| ۲ | حقوق جزاء و علوم جنایی | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |
| ۳ | حقوق خصوصی | ۶۰۰۰۰ افغانی | ۵۵٪ | ۲۷۰۰۰ افغانی |

**د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې تعهدونه**

**څلورمه ماده:**

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره د دې هوکړه ليک د پلي کولو په موخه لاندې مواردو ته ژمنه ده.

۱- د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې مسوولينو لخوا د اړوندو څانګو لپاره د داوطلبو فارغانو رسمي معرفي کول، د ابن‌سينا غير انتفاعي پوهنتون ته؛

۲- د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې د کابل او بلخ د مرکزونو له لارې د محصلينو او کارکوونکو د تحصيل د ادامې په اړه د معلوماتو ورکول، ابن‌سينا غير انتفاعي پوهنتون کې؛

۳- هغه محصلان چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې لخوا معرفي شوي وي بايد د هيواد د لوړو زده کړو وزارت لخوا د نمرو فيصدی تائيد درلودونکي وي ترڅو په پوهنتون کې د تحصيل ادامې لپاره ور شي؛

۴- د تخنيکي او مسلکي زده کړو په څانګوکې د ګډو تطبيقي تحقيقاتو د ترسره کولو زمينه‌سازی او د دې تحقيقاتو د بازار کار اړتياو سره تطبيق؛

۵- د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې هغه پرسونل چې د کمپيوټر او انګليسي ژبې د زده کړو پروګرامونو زده کړې ته اړتيا او علاقه لري، پوهنتون ته معرفي کول؛

۶- که چېرې د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې په رهبري کې کوم بدلون راشي، د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره به د دې هوکړه ليک په شرايطو پابند پاتې شي.

**تعهدات اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی**

**ماده چهارم:**

اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی به منظور عملی ساختن اين تفاهم نامه به موارد ذيل متعهد است:

۱- معرفی رسمی فارغان داوطلب مطابق رشته های مورد نظر به پوهنتون غيرانتفاعی ابن‌سينا توسط مسئولين اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی؛

۲- همکاری به وسيله آگاهی دهی در مراکز کابل و بلخ تعليمات تخنيکی و مسلکی برای ادامه تحصيل محصلين و کارکنان آن اداره در پوهنتون غير انتفاعی ابن‌سينا؛

۳- محصلان معرفی شده توسط اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی بايد فيصدی نمره مورد تأييد وزارت تحصيلات عالی کشور را برای ادامه تحصيل در پوهنتون دارا باشند؛

٤- زمينه سازی تحقيقات مشترک کاربردی در عرصه رشته های تعليمات تخنيکی و مسلکی و مطابقت آن با نياز بازارکار؛

٥- معرفی آنعده پرسونل اداره که نياز و علاقه به فراگيری برنامه های آموزشی کمپيوتر و زبان انگليسی داشته باشد به جانب پوهنتون؛

٦- در صورت تغيير و تبديلی در هيأت رهبری اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی اداره تعليمات تخنيکی و مسلکی به تعهدات اين تفاهم‌نامه پايبند می باشد.

## دریم څپرکی
## وروستي احکام

**د هوکړه لیک موده**

**پنځمه ماده:**

دغه هوکړه لیک له لاسلیک کولو نیټې څخه تر څلورو کالو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ادارې او ابن سینا غیرانتفاعي پوهنتون ترمنځ اعتبار لري او که دواړه لوري موافقه وکړي، نو د تمدید وړ ده.

**د ګډې کمیټې جوړول**

**شپږمه ماده:**

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره او ابن سینا غیرانتفاعي پوهنتون د ګډې کمیټې جوړولو لپاره مکلف دي، چې د هر اړخیزې همکارۍ او د هوکړه لیک د پلي کولو په موخه د دواړو خواوو د وړتیا لرونکو استادانو څخه تشکیل شي

**تعدیلات**

**اوومه ماده:**

د دې هوکړه لیک ځینې موادو کې بدلون، زیاتوالی یا حذف د ګډې کمیټې د وړاندیز له مخې چې په شپږمې مادې کې ذکر شوي، ترسره کیږي.

**فسخه**

**اتمه ماده:**

دغه هوکړه لیک د وخت پای ته رسیدو یا ختم څخه مخکې د لاندې شرایطو سره سم د دواړو خواوو لخوا فسخه کیدلی شي.

۱- د فسخ کولو نه دوه میاشتې مخکې باید یو لوری د هوکړه لیک فسخ کولو خبر په رسمي لیک سره بل لوري ته واستوي.

۲- که یوه خوا د هوکړه لیک کې ذکر شوې دندې او تعهدات ترسره نه کړي، نو دغه هوکړه لیک پرته له رسمي لیک استولو څخه فسخه کیدلی شي.

## فصل سوم
## احکام نهایی

**مدت تفاهم نامه**

**ماده پنجم:**

این تفاهم نامه از تاریخ امضاء آن برای مدت چهارسال بین اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا مدار اعتبار بوده و در صورت موافقه جانبین قابل تمدید می باشد.

**ایجاد کمیته مختلط**

**ماده ششم:**

اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و پوهنتون غیرانتفاعی ابن‌سینا مکلف به ایجاد کمیته مختلط متشکل از کادرهای ورزیده هر دو طرف به منظور اجرای بهتر تعهدات طرفین و تطبیق این تفاهم‌نامه می‌باشند.

**تعدیلات**

**ماده هفتم:**

تعدیل، افزایش و حذف برخی از مواد این تفاهم‌نامه به پیشنهاد کمیته مختلط مندرج ماده ششم این تفاهم‌نامه صورت می‌گیرد.

**فسخ**

**ماده هشتم:**

این تفاهم‌نامه قبل از انقضای زمان یا خاتمه آن به وسیله طرفین در شرایط ذیل قابل فسخ می‌باشد:

۱- اطلاع‌دهی رسمی یکی از طرفین باید دو ماه قبل از فسخ تفاهم‌نامه توسط ارسال مکتوب رسمی به جانب مقابل ارسال شود؛

۲- در صورت عدم انجام وظایف و تعهدات مندرج در این تفاهم‌نامه از سوی یکی از طرف‌ها، این تفاهم‌نامه بدون ارسال مکتوب رسمی قابل فسخ می‌باشد؛

**د تعهداتو بشپړول په صورت د فسخ او یا تمدید نه کول**

**نهمه ماده:**

که چیرې هوکړه لیک فسخ شي یا تمدید نه شي، هغه محصلین چې د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې لخوا معرفي شوي وي او خپل تحصیل بشپړ کړی نه وي، تر هغه چې د زده‌کړو دوره بشپړه کړي، د دې هوکړه لیک تخفیفونو ته لاسرسی لري.

**د اختلاف حل**

**لسمه ماده**

ټول اختلافات چې د دې هوکړه لیک د پلي کولو یا د هغې د تفسیر له امله د دواړو خواوو ترمنځ رامنځته شي، د ګډې کمیټې له لارې د خبرو اترو په وسیله حل کیږي. که چیرې ګډه کمیټه ونه توانیدله چې دا اختلافات د خبرو اترو له لارې حل کړي، نو د دواړو ادارو مسوولین او رهبري به د هیواد د نافذه قوانینو پراساس دغه اختلافات تعقیب کړي.

**انفاذ**

**یوولسمه ماده**

دغه هوکړه لیک په دوه نسخو کې چې درې فصلونه او یوولس مادې لري ترتیب شوې دی، هره نسخه یې یو ډول حکم لري او د لاسلیک نېټې وروسته د دواړو خواوو لپاره اعتبار لري.

**تکمیل تعهدات در صورت فسخ و یا عدم تمدید**

**ماده نهم:**

در صورت فسخ و یا عدم تمدید، آنعده محصلین معرفی شده اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی که تحصیل خویش را تکمیل نکرده باشد الی ختم دوره تحصیل شامل تخفیفات مندرج این تفاهم‌نامه میگردد.

**حل اختلاف**

**ماده دهم:**

کلیه اختلافاتی که ممکن است در اثر اجرای این تفاهم‌نامه یا تفسیر مندرجات آن بین طرفین رخ دهد توسط کمیته مختلط از طریق مذاکره حل می‌شود. در صورتی که کمیته مختلط نتواند آن را از طریق مذاکره حل و فصل کند، از طریق مسئولین و رهبری هر دو اداره بر اساس قوانین نافذه کشور قابل پیگیری خواهد بود.

**انفاذ**

**ماده یازدهم:**

این تفاهم‌نامه در دو نسخه مشتمل بر سه فصل و یازده ماده تهیه شده که هر دو نسخه حکم واحد را داشته و بعد از تاریخ امضاء بین طرفین معتبر می‌باشد.

از جانب ادارهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی

**مولوی غلام سعید احساس**

**معاون و وارسي کننده‌اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی**

(                    )

از جانب پوهنتون ابن‌سینا

**دکتر محمد طاهر حلیمی**

**معاون اداری مالی پوهنتون ابن‌سینا**

(                    )

ثبت دفتر ریاست ۶۸ ۱۴۴۲/۸/۲۳